# ناټو« NATO »
# او
# دناټو« NATO »  پيژندنه !



در ويشتمه برخـــه

**دانټرنيټ دفارسی سرچينوڅخه**
ژباړونکی ؛ عزيزاحمد خوارمل

## دشمالی اتلانتيک دپوځی سازمان ناټواودروسيې ترمنځ داړيکو خړپړتيا :

کوم وخت چې د ققفازپه سيمه کښې لانجی اوشخړی رامنځته سولی  دغه لانجی اوشخړی د دې سبب وګرځېدل ، ترڅو د ناټو او روسيې تر منځ اړيکې ويجاړی  سي او ددواړولوروترمنځ  د اړيکو د خړپړتيانخښې نښانې وليدل سوې .
ددی شخړو راورسته سمدلاسه د ناټو- روسيې دمرستی شورا خپل کاريې تر هغه وخته پوری وځنډه ول  ترڅو دروسيې هيواد خپل   ځواکونه يې دققفاز دخاوري څخه را ونه ايستل اوپرشا نه کړل . اود بلې خوانه  روسيې هم دعکس العمل په بڼودلوسره په  ناټوکې  خپل استازی راکوزين يې بېرته راوغوښتل،اوپه همدی ډول سره د (۲۰۰۸)زيږديز کال دپاره پلان سوي ټوله هغه ګډ پوځي ازموينی ،مانوری اوتمرينات چې دروسيې اوناټودځواکونودخوا په ګډه ترسره کيدل هغه   هم وځنډه ول  سول، چي دغه ازموينه بايد په ټاکلی نيټی باندی د روسيې او ناټو لخواپه ګډه تر سره سوي وای  .
همدارنګه د ملګرو ملتو د امنيت په شورا کښي دققفاز په باب د پرېکړي پر سر د لړليدونو اختلافونه هم رامنځته سول ،اوبل مهمه مسئله په پولېنډ کښي د امريکااو پولينډ تر منځ د توغونديوضد دفاعي سيسټم د ځای پر ځای کېدو تړون وو،چې روسيه هغه ته د يوه خطر په ټوګه ګوري، اوکولای سوچې ووايودغه ټولی مسئلی د اړيکو دويجاړيدواوخړپړتيا نخښی نښانی بلل کيدی سي .
د روسيې او لويديزو هيوادونو د اړيکو دويجاړيدواوخړپړتيا مسئله د يوشميرونوروهيوادونو دخواهم ملاتړوسولواولاهم دغه بهيرپرخپل ځای پاته دی  . په زياته بيا دپولېنډهيواد اود يوشميرنوروختيځې اروپايی هيوادونودخوا، چې  دغه هيوادونه  همدااوس هم دروسيې فيدراتيف هيواددپويرغلګر امپرياليستې زبرځواک په توګه ګڼی .او هغه په دی مانا سره چې روسيه  اوس مهال داهسی يودريځ يې

ځانته غوره لکه داچي ددی تیاری لـري چې دشـــوروي پر پخوانیوغـــړیو هـــیوادونواودختيځــــې اروپا پرپخوانیو سوسیالستي هیوادونوباندي د برید کولو په درشل کي وي .
داخبره ربښتیا ده چې د روسیې دځواکونو دخوا په قفقازکي دګرجستان پر خاوره د سویلي اوسیتیااوابخازیا په سیمو باندی هوايي بریدونه ترسره سول اوپه پایله کي دګرجستان دخاوری دغه برخی یې ترخپل واک لاندی راوست، چې دا کړنه هیڅکله هم د منلو وړ نه ده، اودا یوښکاره کړنه اوتیری دی چې د روسیې دهیواد تېری پر خپل ګاونډی هیوادباندی څرګنده کوي . دا خبره هم پر ځای ده چې امریکا او د اروپايي ټولني غړي هیوادونه د روسیې څخه د خپل عمل د بیرته سمولو غوښتنه کوي . خو دابه غلطه وي که لویدیځ هیوادونه هم د روسیې په ډول غېر منطقي او تر اندازې ډیرعکس العمل وښهي . ځکه دا خو لاد پخوا څخه څرګنده وه چې روسیه یوه ستونزمنه ملګرې هیواد دی ، او په راتلونکی کي به هم همدغه شانته وي . د لمړی سره څخه لیدل کیدل چې دروسیې دولت د سویلي اوسیتیا او ابخازیا پر سریې خپل لاس ایښی وو. د ساکاشویلي دغه هڅه چې د زوردلاری اود پوځي ځواکونو په مرسته به سویلي اوسېتیا بېرته د ځان کړی، دا هم یوه خطرناکه پرېکړه وه . او دا خبره ښايي هم څرګنده وه چې دهغه دغه پرېکړه به په یوې سیاسي او انساني فاجعې سره پای ته رسیږي .
اوس مهال د روسیې په وړاندی ویوې حقیقي اودقیق سیاسي تګلاري ته اړتیا سته دی . ځکه نورنو روسیې ته باید اجازه ورنه کول سي، چې دقفقاز په سیمه کي خپل سري وکړی . د قفقازدسیمی خپلواکي اومځکنی بشپړتیا په اروپا کي دامن او ثبات دپاره یوه اړینه خبره ده .
د بلې خوا څخه وروسیې ته د یوه خطرناکه هیواد په سترګه کتل او په سیاسي لحاظ هم د هغه منزوي کول یو بې مانا کار دی . ځکه چې د روسیې سره ګډ کار کول دلویدیځو هیوادونو په ګټه هم ده . دروسیې هیواد دانرژي د یوې مهمې سرچینی په توګه او د ایران د اټومي اوهستوی پروګرام په مسایلواوپوښتنو کي د روسیې سره ګډ کار ډېر مهم دی . همدارنګه د افغانستان په بیا جوړولواوبیا روغاونی کي ، د منځني ختیځ په شخړو او دشمالي کوریا په لانجه کي هم د روسیې ملګرتیا اړینه خبره ده .
د قفقاز لانجه باید د روسیې او دلوېدیځو هیوادونو ترمنځ د ښو اړیکو د له منځه وړلو سبب ونه ګرځي . په دی ډول دا په دې مانا نه دی چې د قفقاز په شخړه کښي و روسیې سیاست اوپالیسوته ته سرکښته سي . بلکي د ریالیستیک اودقیق سیاست د لاري د ستونزي هواری به د اروپا د خپلو ګټو د سیاست کولو مانا ولري . ځکه روسیه یوازې د حقیقي اوکلک سیاست په ژبه پو هیږي اوبس .

# دشمالی اتلانتیک دپوځی سازمان ناټومشر، د روسیې سره د اړیکو د لاټینګښت غوښتنه وکړه :

د ناټو سرمنشي اعلان کړی ووچې دغه ټولنه د روسیې سره د خپلو اړیکو د غزیدو په هڅه کي ده.
یاپ دي هوپ شیفر همدا راز ویلی وو، د ګرجستان او اوکراین سره د ناټو مرستي ، روسیې ته د منلو وړنه دي.
نوموړي په هغه لیکنه کي چې د ایزوستیا په ورځپانه کي نشراوخپور سو، یادونه کړې وو: «ددغو دواړو هېوادونو (ګرجستان او اوکراین) دخوا د ناټو سره د مرستی غوښتنه، د روسیې او ددغو هېوادونو پر اړیکو باندی ناوړې اغیزې نه سي ښندلای » .
ددې پر عکس، شیفر په دې اندډی چې ناټو غواړي ددغو هېوادونو (روسیې، اوکرائین او ګرجستان) ترمنځ د اړیکو په غزېدو کي مرسته وکړي .
اوکرائین او ګرجستان د پخواني شوروي اتحاد د جمهوریتونو څخه دي او اوسمهال غواړي چې د ناټو غړیتوب ترلاسه کړي او دا غوښتنه د روسیې د خواشینی لامل ګرځیدلي دی .
اوروسیې د دغو هېوادونو څخه غوښتنه کړې چې د ناټو سره د روسیې په خبر مرسته وکړي.
دشمالی اتلانتیک دپوځی سازمان ناټو مشر هوپ شیفر همدا راز زیاتوي : «ناټو په دې باندی ټینګارنه کوي چې په سیمه کي به امنیتي ستونزې په بواځې توګه حل کړای سي».

# د اروپا د امنیت او مرستی  د تشکیلاتو د وزیرانو دشورا په شپاړسمه (۱۶ مه)غونډه کې پرکوموومسائلوباندی خبراتری وسول؟ !

د اروپا د امنیت او مرستی  د تشکیلاتو د وزیرانو شوراپه شپاړسمه ( ۱۶مه )غونډه کې چې د (۲۰۰۸) زیرډیزکال د ډسمبر د میاشتې پر( ۴ او ۵ ) څلرمه اوپینځمه نیټه باندی دغړو  هیوادونو د وزیرانو او سلاکارانو په ګډون ترسره سوه .
په کومو کلونو کې چې داروپا د امنیت او مرستی د تشکیلاتو اود دولت او حکومت د مشرانو عالي غونډې جوړې نه سي نو نوموړې ټولنه د کارونو د سمبال په موخه یو کال وروسته د وزیرانو د شورا غونډه ترسره کوي .
د اروپا د امنیت او مرستی  د تشکیلاتو د سازمان د تاسیس اصلي موخه یا سبب د سړې جګړې په وخت کې د دوو پوځی بلاکونو ترمنځ  د ستونزو د اواری دپاره یوی لاری موندل وو ، نوموړي سازمان په پیل کې د ستونزو د حل دپاره سیاسي او پوځی تدابیر نیول .
نوموړي سازمان نن ورځ د ورځنیو امنیتي ستونزو د اواری دپاره هم په سیاسي او  هم په پوځی برخو کې او سربیره پردي په اقتصادي او د چاپیریال دمسائلو په څیر په موضوعګانو باندی هم کار کوي .
د ډسمبر د میاشتې د ۴ او۵ نیټې په ترسره شوي غونډه کې د ارمنستان ، اذربایجان ، ګرجستان ، روسیې ، انګلستان ، المان ، فرانسې او یونان په څیر هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو ګډون کړې وو .
د نوموړې ترسره شوي غونډې په چوکاټ کې د ناګوره نا کره باغ ، ترانسنیستریا ، سویلي اوسیتیا اواپخازیا د مسائلو سربیره د ګرجستان د نښتو نه وروسته د ترکیې لخوا وړاندې سوي ووچې د قفقاز په سیمه کې دسولی   او مرستی  د پلان دلومړنې( ۵ ) پینځه اړخیزه تخنیکي غونډې پر پرنیسپونو او دموخو په اړه خبراتری  ترسره سول .
په نوموړې غونډه کې د یادو سوو مسائلو سربیره د ترهګرۍ سره د مبارزې ، دچاپیریال او د مدنیتونو د یو والی  د مسائلو په څیر پر یوشمیرنورروموضوعګانو باندی هم خبرې وسوې .
د امریکې ، روسیې او فرانسې څخه د تخنیکي استازو او د اذربایجان او ارمنستان د بهرنیو چارو د وزیرانو په ګډون په یوې غونډې کې د روسیې ، فرانسې ، اذربایجان او ارمنستان څخه د بهرنیو چارو د وزیرانو او د امریکا د متحده ایالتو نو د بهرنیو چارو د وزیر مرستیال په کچه د مینسك د دوو جلا غونډو په ترسره کولو او په بل عبارت سره د اروپا د امنیت او مرستی  د تشکیلاتو د شورا د غونډې په چوکاټ کې سره راغونډیدل د یو ښه راتلونکې په توګه ګڼل کیږي .
درسنیوپه حواله د غونډې په ترڅ کې یو بل مهم پرمختګ دا وو چې د قفقاز دپاره د سولې او مرستی  د پلان په چوکاټ کې د بهرنیو چارو د وزیرانو د مرستیاالانو په کچه د روسیې ، ګرجستان ، ارمنستان ، اذربایجان او ترکیې د هیوادونو ترمینځ لیدنه هم ترسره سوه .
د نوموړو لیدونو په ترڅ کې د قفقازدسیمی  دپاره د سولې او مرستی د پلان په اړه د چارو د چټکتیا او د لړلیدونو د یووالي په اړه مهم بحثونه اوخبراتری ترسره سول .
د اذربایجان او ارمنستان او یا د ترکیې او ارمنستان ترمینځ د ستونزو د اواری دپاره هلې ځلې هم رامنځته سوې .
د نوموړې غونډې بنسټیزی موخی د ترکیې او ارمنستان او یا داذربایجان او ارمنستان ترمینځ د اړیکو نورماله کیدل او وروسته بیا په سیمه کې د ثبات ټینګیدلوباندی بحث اوخبری وسولی . اود ستونزو د اوارې په لاره کې دترکیې دهیواد  رول د ترسره سوې نوښتونو د امله د ځانګرې اهمیت وړ وبلل سوې .
دترکیې هیوادچې په سیمه کې د ټولو ستونزو د اواری دپاره مثبت ګامونه پورته کړې دي د ارمنستان دخوا د اذربایجان د خاورې په یوی برخې باندې د یرغل د امله ډیره حساسه ده . ترکیه په دې باندی ښه

پوهيږي چي د ترکيي او ارمنستان او يا داذربايجان او ارمنستان ترمينځ د ستونزو اوارئ به د قفقاز د سيمي د سولې اوثبات په لاره کي يو مهم گام وي .
د همدي امله په سيمه کې د سولي او ثبات دراوستلو دپاره دري واړه هيوادونو ته اړتيا ده چي د موجودو فرصتونو څخه پوره گټه پورته کړي او د سوله ايزو خبراترو اومذکراتو د لاري د يوميز ترشا کيښني ./

(نوربيا،په څلرويشتمه برخه کې ادامه لري)

اخيځليکونه :دراوي نيوز،د اينترفکس دخبري آژانس اودريا نووستی دسايټ څخه.